# ادب او د ژوند تجربې

**لیکوال: پوهیالی سراج احمد ژواک**

**لنډیز**

ادبیات او په ټوله کې هر بل هنري ژانر د ژوند په باب زموږ او ستاسې تجربې ډېره وي؛ ځکه ژوند دی چې ادبیاتو ته خام مواد برابروي او هر پنځګر د همدغو خامو موادو په وسیله د خپلې هنري پنځونې ماڼۍ رغوي. هنري پنځونې چې ډېرې توکي يې د پنځونکو د خپلو ذهنونو محصول وي؛ په يوه نه يوه بڼه په کې د ژوند تجربې فوران کوي؛ يعنې ادبيات او په ټوله کې بل هر هنري ژانر کله له يوې خوا له ژوند څخه څه اخلي، بېرته يې په اوښتې بڼه ورکوي هم. خو دا بيا په هغه صورت کې د شونتيا تر بريده رسيږي، چې پنځګر يې هڅه وکړي، تر څو خپلې تجربې له لوستونکو سره شريکې کړي؛ ځکه هغه څوک چې په خپلو پنځونو کې د خپل ژوند تجربې نه رانغاړي، ښايي په لوستونکو يې پنځونه تر هغه بريده چې ورته ښايي، اغېز ونه کړي.

**بنسټيز ويونه: ادب، هنر، ژوند او تجربې**

## سریزه

ادبیات یوازې د وخت تېرولو او ساعتېرۍ وسیله نه دي، بلکې په هغوی کې نغښتې سکالوګانې او مفاهیم کولای شي، چې موږ او تاسې د دنیا او اخرت د ښېګڼو او نېکمرغیو په لور سوق کړي، خو دا به په هغه وخت کې شونې وي، چې پنځګر یې د «ادب د ادب لپاره» د مردودې مفکورې تر سیوري لاندې را نه شي او د «ادب د ژوند لپاره» سپېڅلې عقیده ته ژمن پاتې شي. زموږ او ستاسو په پښتو ادبیاتو کې د لومړۍ نظریې پلیوني له نېکه مرغه په ندرت سره تر سترګو کېږي او تر ډېره بریده مو هنري پنځونې د دویمې نظریې په وړانګو سره وړنګنې دي، پر همدې اساس د ژوند په باب ترې ډېر څه زده کولای شو.

## ادب او ژوند

ادب د ژوند په باب زموږ تجربې ډېروي، بویه چې لوستوال یې دې ضمني دندې ته د زړه په سترګو وګوري؛ ځکه په ادبي اثارو کې تر ډېره بریده د هغوی د پنځګرو د لاشعور مړې پېښې په یوه او بله بڼه ځانونه څرګندوي. د دغو مړو پېښو خښتې چې د ژوند په اوږدو کې د انسان د شخصیتي ساختمان په جوړولو کې لوی لاس لري؛ ادبیات یې په بشپړه توګه په خپله ځولۍ کې را نغاړي؛ یعنې تر ډېره بریده د انسان شخصیت د هغه د لاشعور تر پوښښ لاندې جوړېږي. ادب بیا د انسان د همدغې لاشعور د نړۍ د مړو پېښو او حوادثو فوران دی، چې په یوه او بله بڼه د هغه په یوه ژانر کې څرګندېږي.

اباسین یوسفزی وایي:

که زما د شخصیت حدونه ګورې

زما فن زما د فکر ترجمان دی

هو، هر فن د هغه د پنځګر د فکر ترجماني کولای شي، خو په دې اړ، چې پنځګر یې د ژوند څیزونو او پدیدو ته، د زړه په سترګو تر کتلو وروسته، د هغوی په خپله فنپاره کې د رانغښتلو هڅه وکړي. ځکه هسې خو د انسانانو تر منځ ځینې تجربې ګډې هم وي او موږ نه شو کولای چې پرته د پورتني اړ په نظر کې نیولو سره هرـ هر چا ته د نوښتګر خطاب وکړو. دا تر هغې چې څو یې پنځګر دې ګډو تجربو ته له نوې زاویې څخه نه وي کتلي؛ ځکه خدای تعالی هیڅ څیز هم دوه هو به هو سره ورته نه دي پیدا کړي. دا د ځینو د ذهنونو توهم دی، چې ځینې څیزونه ورته هو به هو سره ورته ښکاري، د دوی تر منځ دا

مرموز تفکیک د زړه سترګې او د فکر دقت غواړي.

خبره د ادب سره د ژوند د تړاو ده، کله چې موږ د خپلې یوې تېروتنې تجربه له نورو سره شریکوو، دا مو په حقیقت کې له هغوی څخه د دا ډول تېروتنو د بیا تکرار مخه نیولې ده. هغوی مو په ژوند کې له یوې ښوېدنې څخه ژغورلي دي. او پر عکس یې کله چې موږ د خپل یوه بریالیتوب راز له نورو سره شریکوو، دا مو هم په حقیقت کې هغوی د یوه بریالیتوب خوا ته، چې موږ یې هم شاهدان وو سوق کړي دي. ځکه انسان د انسان هنداره ده، ادبیات چې د دا ډول فردي بریالیتوبونو او محرومیتونو څخه مالامال دي، لوستل به یې د ژوند د لا ښه والي لپاره بې ګټې نه وي.

زموږ او ستاسو په پښتو ادبیاتو کې حضرت خوشحال خان خټک د بل هر شاعر او لیکوال په پرتله خپلې ذاتې تجربې ډېرې له خپلو لوستونکو سره ګډې کړې دي، پر همدې اساس یې د اثارو په لوستلو سره د ژوند په باب د لوستوالو تجربې هم ډېرېږي.

هغه وایي:

که اوبه وي د باران یا د چینې
د کوهي اوبه ضرر دي د بشر
ښې سړې خوړې اوبه د سړي ځان دی
ولې تود طعام سړې اوبه ضرر
چې تودې اوبه څوک څښې غارمه وهلی
پرې نقصان د اشتها شي رنګ اصغر

(۸/۹۷)

دا پورتنی تجربې ښایي حضرت خوشحال خان خټک په پاخه عمر کې کړې وي، خو اوس که څېرته یو دوولس کلن څوک هم د نوموړي دا شعر ولولي او په خپل ژوند کې یې پر ځان مفهوم پلی کړي، بیا خو د ده او د هغه دوولس کلن تجربه سره برابره شوه. نو پر همدې بنسټ د ژوند په باب د ادبیاتو د یوه دوولس کلن لوستوال تجربه، ښایي د څلوېښت کلن سړي له تجربې سره برابره وي.

خوشحال خان خټک د یوه بل شعر په یوه بیت کې را ته وایي:

شبستان مې د ابکارو ماېو ځای دی
تي يې نموړم د غدو په استحصال
(۲/۵۶۶)

دا ډول ذاتي تجربه چې اوسني علم ثابته کړې هم ده، د هر انسان سره په همغه خپل معين وخت کې د مقابل لوري د غدو په استحصال کې مرسته کولای شي، خو د دې ډول تجربو شريکول له نورو سره د خوشحال خان غوندې، د يوه پنځګر جرئت غواړي؛ که موږ مو له ذهنونو څخه د مسلط دوديز نظام جغ لرې کړو، نو دا ډول ډېرې نا څرګندې او نا ويلې تجربې زموږ او ستاسو له فنپارو څخه د خپلې څرګندتيا لارې څاري.

د حضرت خوشحال خان خټک دا لاندې تجربې هم په ژوند کې د پلي کېدو وړ دي:

که رانجه سـرې تاوده کا
اطرفـيل سره يې اوبه کا
په کې ډوب تاوده رانـجه کا
اووه ځـله داسـې وکا
په دا رنګ د ښـځې پئ
اووه ځـله ډوب پرې کړ
بيا دې واړه ښه مـيده کا
په لېمو يې دې ښه سـيده کا
چې د سترګو ګوهر يې زحمت وي
نـور به دا رانـجه صحت وي
(۸/۱۰۰)

خوشحال خان خټک د انسان د بدن د زياتو برخو او د هغو د زياتو برخو د علاج لپاره داسې لارې چارې ښودلې دي، چې آن په نني عصري طب کې هم ترې ګټه اخيستل کېدای شي، خوشحال بابا اول دا نصيحت کوي، چې ناپوه طبيب ته مه ځئ، چې دارو يې خطر لري.

د طبعيت دارو حاله خوره چې حاذق وي
د ناقص طـبيت دارو لري خـطر
(۸/۹۸)

د انسان د روحي ارامۍ لپاره وايي، چې سړی باید په باد او غبار کې و نه ګرځي، په ښه هوا او خوشبويۍ کې وګرځي چې صحت ته ګټه لري.

ګرد غبار، غارمه چـــــکړ هوا بدبويه
رنځ علت وبا پيدا کــــــــــېږي اکثر
خوشبوي څو لګوې هــــــومره فايده ده
تندروستي ده هم ســــــــــنت د پيغمبر
(۸/۸۸)

اوسنی طب وايي، چې د هغو انسانانو چې وينه په بدن کې ډېره وي، بويه چې په کال کې له خپل تن څخه څه اندازه وينه وباسي، دا کار يې صحت ته ګټه رسوي؛ بابا وايي:

فصد ســـړي سره نافع دی
د هزار علـــــت دافع دی
(۸/۹۹)

د نوموړي دا او دې ته د ورته ډېری شعرونو لوستل مو نه يوازې د روحي تسکين لامل کېدای شي، بلکې د جسمي هغه لپاره يې هم لوستل را سره بشپړه مرسته کولای شي.

د پښتو ادبياتو تر بل هر شاعر، عام اولس ته د منل شوي هغه، د حضرت عبدالرحمان بابا ښايي په اولس کې د اوڅارتيا لامل، لوستونکو ته د هغه د اسان او د اولس په ژبه د ګړېدونکي سبک ترڅنګ، نصيحتي او د ژوند په باب د ګڼو تجربو د لېږد هغه هم وي. څکه دا اوس چې وينو د پښتو لنډيو د جادوګر اغېز غوندې د عبدالرحمان بابا ديوان هم په هرو درو تنو کې د يوه پر حافظه يو نيم خپل بيت حک کړی دی او د دې هر يوه د خولې نه ښايي په بار بار دا لاندې بيتونه واورېدل شي:

کر د ګلو کړه چې ســــــيمه دې ګلزار شي
اغزي مه کره په پښو کې به دې خــار شي
ته چې بل په غشو ولې هــــــــسې پوه شه
چې همدا غشی به ستا په لور ګــــوزار شي
کــــوهي مه کـــــنه د بل ســــــړي په لار کې
چېرې ستا به د کــــــــوهي په غاړه لار شي
(۵/ ۱۳۲)

له خوشحال خان خټک او عبدالرحمان بابا څخه پرته د هندي سبک سرلاری او نازکخیال شاعر عبدالحمید مومند هم تر ډېره بریده په شعر کې د خپلو ذاتي تجربو د رانغښتیا هڅه کړې ده؛ د هغه د نارینه حسن ستاینې او د هغه پر مخ د ږیرې د خط د راتلو همدغه ذاتي تجربه وه، چې نوموړی یې د اوځارتیا پر بام ودراوه.

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې
دا یې غابښ په خوله کې زېب کا که ژاله شوه په لاله کې
دا زما له غمه شین زړه په کې خیال د یار د شونډو
هسې رنګ زېب او زینت کا لکه مې په شنه پیاله کې
لکه ونښلي مرغۍ په سست دام د سلو لومو
هسې زه پرېشانه زلفو کښېستم په کشاله کې

×××

له خامۍ جوش او خروش خېژي له دېګه
وي له خپلې پختګۍ نه پختګان چوپ

×××

لګي لا د خط په وخت د یار عتاب سخت
وي د شپې بادو باران سیلۍ سېلاب سخت

(۶/۴۷)

له دوی څخه پرته د پښتو ادبیاتو د دې منځنۍ دورې د ګڼو نورو شاعرانو لکه اشرف خان هجري، عبدالقادرخان خټک، علي خان، کاظم خان شیدا او نورو ادبي فنپارې مو هم د ژوند په ګردونو کې د ګڼو پټو او مرموزو تجربو سره اشنا کولای شي او لوستونکو ته به یې لوستل بې ګټې نه وي.

په معاصره (اوسنۍ) دوره کې غني خان غني تر ډېره بریده د پښتنو د دودیز مسلط نظام له جغ څخه د خپلې معصومې شاعرۍ نازک بدن ژغورلی دی او تر ډېره یې د هغه د نازک روح پر اوږو د خپلو ازمویل شوو ذاتي تجربو د لېږد هڅه کړې ده.

مینه مستي ده داسې مستي ده
لکه چې مست وي د بنګړې ټال

کله سور ګل شي، د سپرلي شپه شي
کله سرور، سوز، کله چغار شي
کله یو غم شي، ساز او ستار شي
کله منصور شي، کله بلال شي
(۴/ ۱۶۸)

د هغه هم عصر او د پښتو غزل پلار امیر حمزه شینواری هم په دې برخه کې له نوموړي څخه کم نه دی، بلکې په ډېرو دې ډول ځایونو کې خو یې یو ګام مخکې هم ترې ګڼلی شو. ځکه چې هغه نه یوازې په خپل جادوګر غزل کې د خپلو ذاتي تجربو د لېږد هڅه کړې، بلکې په نثر کې یې هم د نورو نثري اثارو ترڅنګ پر ژوند باندې یو ځانګړی اثر د «ژوند» په نوم کښلی دی. د نوموړي دا اثر چې تر ډېره بریده د هغه پر خپلو تجربو او مطالعې مالامال دی، زموږ سره د ژوند په ښه پېژندلو کې تر بل هر هغه ډېره مرسته کولای شي؛ خو له بده مرغه دم ګړۍ یې چې دا اثر په لاس کې نه لرو، نو د ناچارۍ له مخې مجبور یو، چې د خپلې حافظې څخه یې په یوه بیت بسنه وکړو.

غوږ پرې حمزه مه باسه ژورې کا که لوړې کا
خلک مختلف دي څوک د سمې څوک د غره وايي

×××

غل د محبت غلطېدای نه شي
څوک چې په محفل کې چاته نه ګوري
(۳/۱۳۱)

زموږ او ستاسو د معاصر ادب بل غزلبول شاعر، ارواښاد محمدصدیق پسرلی هم، چې په خپل لوړ خیال او ژور فکر سره یې وکولای شول، چې په اوسنۍ دوره کې د منځنۍ هغې زړه وړونکی هندي سبک یو ځل بیا را ژوندی کړي، په دې برخه کې له پورته یادو شوو، هره یوه څخه کم نه ښکاري. هغه د «غزلبڼ» په نوم پنځه شعري جونګ له ګڼو ادبي، ښکلا ییزو ښېګڼو ترڅنګ، پر ذاتي تجربو مالامال موږ ته را پرېښی دی؛ دغه لاندې یوه څلوریزه یې د «مشت نمونه ای خروار» په توګه یادولای شو:

چې ورته ګورم له شرمه سره شي
د حسن ګل وي د زړه ټوټه شي

شرم و حیا وي جوهر د حــــــسن
منه چې ســره شي هاله خوړه شي
(۱/ ۵۰)

نه یوازې دا عروضي ادب د ژوند ګڼې تجربې په خپله وېړه څولۍ کې را نغاړي، بلکې زموږ د فوکلوریک هغه ناوې هم په ګڼو داسې ښکلو او زړه وړونکو ګاڼو ګاڼـل شـوې ده، چې تر دې عروضي هغه يې ښکلا څو ګرایه اوچته بريښي.

په جینکو کې دا عادت دی
لوګی بانه کړي ژړا يار پسې کوینه

×××

د ګودر غاړه ورته نیسه
د جلۍ خوی د مرغاوۍ دی را به شینه

×××

باران که اوري ودې اوري
واورې دې نه اوري چې لارې بندوینه

×××

پېغلتوب نیمه پاچايي ده
ورک ناوېتوب شه، چې دوه نيمې ورځې وینه
(۴۶/۷، ۴۸)

د فوکلوریکو ادبیاتو دا د لنډۍ د ژانر د ژوند کتاب په خپلو پاڼو کې ګـڼ داسـې زړه وړونکي انځورونه خوندي کړي دي، چې له یوه لوري يې پر لیدلو د انسان ایـستیتیک ذوق خړوبېږي او له بل هغه يې پرې د ګڼو داسې حقیقتونو سره پېژندنه کېږي، چې که دم ګړۍ نه وي، څه موده وروسته خو به خامخا ورسره مخامخېږي.

نېستیه مخ دې چاته مه شه
ما ته دې مخ دی له سیالۍ دې وویستمه

×××

کله زموږ کلي ته راوړه
په غم ښادۍ کې به مو کېږي دیدنونه

مینه مې پټه درسره ده
پښتنې کله په ښکاره مینه کوینه

له لنډیو څخه پرته د فوکلوریک ادب نور ژانرونه لکه چاربیتې، بګټۍ، لوبې، بدلې، سروکي، کاکړۍ غاړې او داسې نور هم په خپلو ځولیو کې د ژوند د پېژندنې داسې ډېر محکونه لري، چې لیدل به یې زموږ او ستاسو لپاره بې ګټې نه وي. د بېلګې په توګه یې دې لاندې څو کاکړیو غاړو ته تمېږو:

زړه چې مات شي نه جوړېږي
درد یې ورځ په ورځ زیاتېږي

×××

نه یې کېږي علاجونه
که پرې و غواړې ملکونه

زموږ او ستاسو دري ادب هم په خپله ویړه ځولۍ کې ګڼ داسې هفت رنګ لعلونه رانغښتي، چې په لیدلو یې د لیدونکي سترګې بې له ځنډه، آن د هغوی د پیدا کوونکي د حسن ننداري ته سوق کېږي.

هفت شهر عشق عطار گشت
ما هنوز اندر خم یک کوچه ایم

دا خو څرګنده خبره ده، چې موږ په حقیقت کې له ازلي عالم څخه یوه رابېله شوې ټوټه یو، دا ځکه هر وخت داسې یو لکه یو څه مو چې ورک کړي وي؛ هر وخت د خپلو دروني او بېروني غوښتنو سره په کشمکش کې یو، هیڅ ځای او په هیڅ وخت کې مو د زړونو قرار نه دی حاصل شوی، تل له فنا څخه بقا د تلو هڅه کوو. مقدوني سکندر به په نیمه شپه د سفر موزې په پښو کړې او خپلو لښکریانو ته به یې د لښکرکشۍ امر وکړ، هغه هم په داسې حال کې چې له آره به یې دې لښکرکشۍ ته هیڅ اړتیا نه درلوده، زموږ او ستاسو لوی امپراتور حضرت احمد شاه بابا به هم چې پر ډهلي باندې تاخت وکړ، د تخت تر نیولو وروسته به یې، سره د دې چې د زرګونو ځوانانو سرونه به یې هم پرې خاورې کړي وو؛ خو ده به هلته تر دوو ورځو تېرولو ورسته له ځانه سره ویل:

د ډهلي تخت هېرومه چې را ياد کړم
زما د ښکلې پښتونخوا د غرو سرونه

همدغه ځای دی، چې زموږ او ستاسو د افاقي فکر نابغه ليکوال او شاعر حضرت مولانای بلخي (رح) د خپل افاقي فکر له سترګکيو دې معقول حقيقت ته پام شوی او دا معقول يې پر محسوس هغه باندې د لا ښه وضاحت په پار تر موږ او تاسو را رسولی دی.

هر کس که دور ماند از اصل خويش
باز جويد روزګار وصـــــــل خويش

او چې چا دې حقيقتونو ته پام نه کاوه، نو ښايي تر خولې يې ورته دا هم وتلي وي:

در نه يابد حال پخته هيچ خام
پس ســـــخن کوتا بايد وسلام

د نوموړي سره همفکره او د هغه د لارې ملګری حضرت بېدل (رح) مو هم دې ته ورته د ګڼو مرموزو او نا څرګندو حقيقتونو درک او نندارې ته ورغواړي.

يک قدم راه است بيدل از زمين تا زير خاک
بر سر مژګان چو اشک ايستاده ای هوشيار باش

په شعر کې د خپلو ذاتي تجربو د رانغښتلو لپاره ځينې بديعي او بياني ادبي ښکلاوې لکه مدعا المثل، حسن تعليل، لف او نشر، مرعات النظير، تشبيه، مجاز، کنايه او استعاره راسره بشپړه مرسته کولای شي؛ خو په دې ټولو کې تر نورې هرې يوې ادبي ښکلا نه مدعا المثل وړاندې په نظر راځي، ځکه په دې ډول ادبي ښکلا کې شاعر د لومړۍ مسرې د شوې ادعا د ثبوت لپاره مجبور دی، چې په ژوند کې يو دليل ولټوي، چې همدغه دليل يې د ژوند يوه تجربه را په ګوته کوي. د دې ډول ادبي ښکلا يو څو بېلګې د امير حمزه شينواري په لاندې بيتونو کې، چې زموږ د سکالو اړوند غوره بېلګې هم کېدای شي، موندلای شو:

زړه ته جنازې د خپګان مه راوړه ارمانه
خلک هـــــــديرې له کلي لرې جوړوي

×××

مينه شوه ځــــــــوانه ساتم يې پټه
جل چې شي پېغله خوند په کاله کا

ستا د زلفو تصور مې د دنيا خيالونه ورک کړل
دا روښانه حقيقت دی چې تياره شي مچان کېنې
(۴/۹۰)

د شعر په پرتله، چې په کې د يوې ذاتي تجربې او مفکورې را نغښتل د زړه وينې وچوي، د تخليقي ادبياتو نور ژانرونه لکه لنډه کيسه، ناول، رومان، طنز، ډرامه، سفرنامه، ادبي راپورتاژ او داسې نورو دې ته ورته نثري ژانرونه د ژوند په ګڼو کونجونو کې پټې پرتې تجربې ښې ترې په ګوته کولای شي. ځکه په شعر کې موږ او تاسې د قافيو او رديفونو تر جغ لاندې د خپلې ذاتي تجربې ساه اخيستلو ته مجبورېږو او دا هم لکه څرنګه چې په ډېرو شعرونو کې شوي دي او شونې هم ده، چې په کې دې ښايي د يوې ذاتي تجربې ساه بالکل تربته شي او پنځول شوی شعر دې د يوه کالبوت بڼه غوره کړي.

**پايله**

د پايلې په توګه په ډېر وثوق سره ويلای شو، چې ادب او په ټوله کې د هر بل هنري ژانر لوستل د ژوند اړوند د خپلو لوستوالو تجربې ډېرولای شي. هنر او ادب يوازې د ژوند د بې موخې تېرولو او ساعتيرۍ وسيلې نه دي، بلکې که چېرې يې د زړه په سترګو هره پنځونه ولوستل شي، نو د ژوند د تجربو داسې ډېرې رنګينې مرغلرې به يې په تل کې را ته سترګکونه ووهي، چې پرې زموږ او ستاسو د دنيا او اخرت ښېګڼې ميسر کېدای شي.

د هنر او ادب پنځوالو ته هم بويه، چې په پټو سترګو د نورو مخکنيو ليکوالو او شاعرانو له اثارو څخه د نغښتو هنري ښېګڼې پېښې ونه کړي. ځکه چې په دې ډول کړنه سره به يې په لوی لاس د خپلو اثارو د لوستوالو ګراف را ښکته کړی وي. ځکه هغه څوک چې په خپلو ليکنو کې د نورو کړې خبرې رانغاړي، خبرې به يې ډېرې مصنوعي وي او په لوستونکو به اغېز ونه شي کړای.

## اخځلیکونه

۱ـ پسرلی، اجمل. (۱۳۹۴). **یو تېر یاد**. ګردېز: علمي خپرندویه ټولنه.

۲ـ خټک، خوشحال خان. (۱۳۸۷). **کلیات**. د عبدالقیوم زاهد مشوانۍ په زیار. پېښور: دویم چاپ. دانش خپرندویه ټولنه.

۳ـ سالک، مصطفی. (۱۳۷۹). **منشور** (کره کتنه). پېښور: دویم چاپ. دانش خپرندویه ټولنه.

۴ـ ښکلی، اجمل. (۱۳۹۴). **ادبي زاویې**. ګردېز: علمي خپرندویه ټولنه.

۵ـ عبدالرحمان بابا. ( ۱۳۸۶). **کلیات**. د محمد ظاهر بارکزي تصحیح او سمونه.پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.

۶ـ مومند، عبدالحمید. (۱۳۸۳). **کلیات**. د محمد اصف صمیم په زیار. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۷ـ وفا، محمد داود. (۱۳۹۳). **د فوکلور پېژندنې لارښود**. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۸ـ یون، محمد اسمعیل. (۱۳۸۷). **اندیال خوشحال**. کابل: یون کلتوري یون.